## په افغانستان کې د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي پروګرام کې د ځايي داوطلبانو د ونډې لارښود

## (جنوري 2017)

### 1. موخه او د پوښښ سیمه

دغه جزوه د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ ریاست (د هېواد د ماین پاکۍ ملي ارګان) له خوا د لارښود په توګه د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي ورکولو په برخه کې د همکارو ادارو لپاره د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه پوهاوي ورکولو کې د ځايي داوطلبانو د ونډې په باب چمتو شوې ده. دغه جزوه په افغانستان کې د ځايي داوطلبانه خدمتونو د بریالیو بېلګو پر بنیاد او د ماینونو او مهماتو د ګواښ په اړه د پوهاوي په برخه کې د معیاري کړنو په اړوند د IMAS په لارښود کې د مندرجو لارښودونو پر بنسټ لیکل شوې ده.

### 2. د ځايي داوطلبانو بنسټیزه ونډه:

له ځايي داوطلبانو څخه داسې تمه کېږي چې په داوطلبانه ډول د یوه ځان واکي ارګان په توګه چې له چاودېدونکو توکو څخه په اغېزمنو شویو سیمو کې د یوې تل پاتې وړتیا درلودونکی دی، د پروژې د پلي کېدو پر مهال او تر هغې وروسته د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د چاودنې له امله د رامنځ ته کېدونکو پېښو د کمښت په لاره کې کار وکړي.

د ځايي داوطلبانو مرکز په کلیو او بانډو کې دی او د ماینونو او مهماتو د ستونزې په تړاو د مراجعې د ټکي او د معلوماتو او نورو اړوندو مسایلو د سرچینې په توګه عمل کوي. د ځايي داوطلبانو څارنه او سرپرستي د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي ټیمونو (چې معاش لري) پر غاړه ده چې په ډېری مواردو کې د ولایت یا ولسوالۍ د اړیکو د مرجع په توګه رول لوبوي. ځايي داوطلبان لاندې دندې ترسره کوي:

الف) د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي لومړنۍغونډې له خطر سره مخامخ ډلو لپاره د هغوی په اړوندو سیمو کې.

ب) د ماینونو او له جګړې څخه د پاتې چاودېدونکو توکو د چاودنې، مرګ ژوبلې، شکمنو ککړو سیمو او چاودېدونکو توکو په باب د اطلاعاتو په راټولولو کې همکاري کول.

ج) د سیمې خلکو ته په سیمه کې د ماین پاکۍ فعالیتونو په اړه د معلوماتو په ورکولو کې مرسته کول او مرستې او همکارۍ ته د هغوی هڅول.

د) د کلي په کچه د غونډو په تنظیمولو کې مرسته.

ه-) د ماینونو په اړه د خبر ورکولو د ۲۴ ساعته ټلیفوني شمېرې د کارولو تبلیغول.

پکار ده چې پورته ذکر شوې تمې د دندو د لایحې په چوکاټ کې په تفصیلي توګه ولیکل او توضیح شي چې د ځايي داوطلبانو د توظیف پر مهال هغوی ته سپارل کېږي.

### 3. د ځايي داوطلبانو غوراوی او ترکیب:

ځايي داوطلبانو باید لږ تر لږه د ۲۰ کلنې عمر بشپړ کړی وي؛ باید په سیمه کې مېشتو د بېلابېلو ډلو استازیتوب وکړای شي (نارینه، ښځې، راز راز قومونه)؛ او باید درانه او په سیمه کې نفوذ لرونکي اشخاص وي. سربېره پر هغې ځايي داوطلبان باید وکړای شي چې:

أ. د خپلو دندو د لایحې مطابق د خپلو دندو د ترسره کولو لپاره وخت ځانګړی کړي؛
ب. په آزاده او اغېزمنه توګه افهام او تفهیم وکړي؛
ج. په لیک او لوست پوه وي؛ او
د. د روزنیز پروګرام د پای په ارزونه کې بریالي شي.

همدارنګه ښځې باید د ځايي داوطلبانو په توګه له خطر سره مخ نفوس ته د دواړو جنسونو په ګډون د لاسرسي د برابرولو لپاره وټاکلې شي. همدارنګه ثابته شوې ده چې ښځې کولای شي د خپلو ماشومانو په خوندي ساتلو او هغوی ته د خونديتوب د پيغامونو په رسولو کې مهم رول ولوبوي. د ښځينه ځايي داوطلبانو د ټاکلو په تړاو يوه غوره استراتيژي به دا وي چې د يوه جفت (نارينه او ښځې) په توګه توظيف شي، يعني د يو بل محرم (مور او پلار، ورور او خور، ښځه او مېړه).

د داوطلبانو شمېر په يوه سيمه کې د هماغې سيمې له مساحت او جغرافيې سره تړاو لري. يوه بله مهمه ملاحظه چې په يوه سيمه کې د اړتيا وړ شمېر ځآيي داوطلبانو په تعيينولو کې مرسته کوي، دا ده چې هر داوطلب څومره کولای شي او څومره اراده لري چې په اړونده سيمه کې د خدمتونو وړاندې کولو ته خپل وخت ځانګړی کړي. د شونتيا په صورت کې، او کله چې په يوې سيمه کې له يوه څخه ډېر داوطلبان موجود وي، غوره ده چې د يوې سيمې داوطلبان يوه کميټه جوړه کړي ترڅو د اړوندې سيمې په باب د نظرونو د تبادلې کولو لپاره وکارول شي.

د ماينونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي د برخې همکارې ادارې ته مهمه ده چې د سيمې د خلکو په منځ کې ښې اړيکې جوړې کړي، يعنې له شوراګانو (سيمه ييزې شوراګانې)، د کليو مشرانو، ملا امامانو او نورو مخورو سره اړيکې چې د داوطلبانو د په ګوته کولو او غوراوي لپاره غوره موقعيت کې واقع وي.

**4. د ځايي داوطلبانو روزنه او تر هغې وروسته ملاتړ/ څارنه:**

ځايي داوطلبان په سمه توګه روزل د پروګرام په پايښت کې بنسټيز رول لوبوي او دا کار بايد په حقيقت کې د پروژې د پلي کېدو په ترڅ کې د نوماندانو تر غوره کېدو وروسته لومړی ګام وي. لومړۍ روزنيزه غونډه ښايي تر ۱۵ ساعتونو وخت ونيسي. کولای شو دغه شمېر ساعتونه نظر و دې ته چې داوطلبان په يوه ورځ کې څومره وخت لري، په څو ورځو باندې ووېشو خو په ټوليزه توګه بايد له پنځو ورځو تجاوز ونکړي. د ځايي داوطلبانو د روزنې وروسته بايد هغوی ته لارښوونه وشي او داخل خدمت روزنيز پروګرامونه ورته داير شي. کولای شو څو تنه ځايي داوطلبان په يوه وخت او يوه ځای کې وروزو چې په وخت او لګښتونو کې د سپما لامل ګرځي.

اړينه ده چې د اړتيا وړ درسي توکي لکه د روزونکو د وسايلو کڅوړه، نور د ماينونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي توکي د دغو تعليماتو ګټه اخيستونکو باندې د وېشلو په موخه، او يوه اندازه قرطاسيه (د قلم، کتابچې او کليز په ګډون) ځايي داوطلبانو ته ورکړل شي. د ماينونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي ټيم مسؤوليت دی چې د ځايي داوطلبانو د روزنې پروګرام داير کړي او د اړتيا له مخې تعقيبي چارې او تخنيکي ملاتړ وکړي او تعقيبي روزنيز پروګرامونه داير کړي.

ځايي داوطلبانو ته پيسې نه ورکول کېږي او بايد د مزد په نوم پيسې ورنکړای شي. ځايي داوطلبان هغه کسان دي چې په داوطلبانه توګه نظر و هغې لېوالتيا ته چې د خپلې سيمې د خلکو له خدمت سره يې لري، کار کوي، ځکه چې يواځې په همدې طريقه ده چې هغوی د ريښتيني هوډ نښانې له ځانه ښودلې شي. د پروژې له پای ته رسېدو وروسته د دغه روال له دوام څخه ډاډ ترلاسه کول يو مهم اقدام شمېرل کېږي. د ماينونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي همکارې ادارې بايد ډاډ ترلاسه کړي چې داوطلب نوماندان د غوراوي او ټاکنې د پړاوونو په ترڅ کې دغه ټکي په سمه توګه درک کړي. همدارنګه د ماينونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي همکارې ادارې بايد د غيرواقعي ژمنو له کولو څخه په جدي توګه ډډه وکړي.

د ځايي داوطلبانو د کار حجم بايد لږ وي او ددې لامل نشي چې هغوی د خپل ورځني کار چې د معيشت د پر مخ بيولو لپاره يې ترسره کوي، څخه پاتې شي. خو که په هر دليل داوطلبان په داوطلبانه کارونو کې له حد څخه ډېر بوخت شي، پکار ده چې يوڅه مزد ورکړل شي ترڅو هغه عايد يې چې له لاسه تللی دی، جبران شي؛ د بېلګې په توګه، د سفر د خرڅ ورکول د هغه وخت لپاره چې هغوی په روزنيزو پروګرامونو، ليدو کاتو يا ورکشاپونو کې د ګډون لپاره له سيمې څخه بهر لاړ شي.

کولای شو ځايي داوطلبان د پروژې په لومړنيو پړاوونو کې غوره کړای شي او له روزنې وروسته په کار واچول شي، تر څو وکړای شي له هماغه پيل څخه د پروژې د موخو په لاس ته راوړلو کې مرستندويه واقع شي. د ماينونو او له جګړې

پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي همکاره اداره باید د هغو داوطلبانو لړلیک چې پخوا روزل شوي او فعال دي د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ ریاست څخه ترلاسه کړي او په پرلپسې توګه د هغو د ملاتړ او څارنې مسؤولیت پر غاړه واخلي.

د پروژې کارکوونکي باید داوطلبانو ته درناوی وکړي او ورڅخه ملاتړ وکړي، خو ورباندې نیوکه ونکړي.

د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي ټیمونه د ځایي داوطلبانو د منظمې څارنې مسؤولیت په غاړه لري؛ د بېلګې په توګه په میاشت کې یوځل له داوطلبانو سره وګوري (دې ته په پام سره چې هغو ځایي داوطلبانو سره چې نوي روزل شوي وي، په مکرره توګه لیده کاته ډېر اهمیت لري)، د پوهاوي ورکولو په یوه غونډه کې ګډون چې د ځایي داوطلب له خوا پر مخ وړل کېږي او د IMSMA د لارښوونو له مخې د اړوندو کاري رپوټونو راټولول (چې باید په IMSMA کې د ثبتولو لپاره د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ ریاست ته ولېږل شي). د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي هر ټیم باید د خپل ظرفیت په نظر کې نیولو سره له یوشمېر داوطلبانو سره کار وکړي. سربېره پر هغې، د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي همکاره اداره باید د ټولو فعالو ځایي داوطلبانو لړلیک او د هغو په اړه لاندې جزییات له ځان سره ولري:

أ. د ځایي داوطلب نوم؛
ب. د پلار نوم؛
ج. پته (کلی، ولسوالي او ولایت)؛
د. د موبایل شمېره؛ او
ه. یو بدیل اړیکتیایي شخص (نوم، خپلوي او د اړیکو شمېره).

د ماینونو او له جګړې پاتې چاودېدونکو توکو د ګواښ په اړه د پوهاوي همکاره اداره باید دغه معلومات د IMSMA په ډیتابېس کې د ثبتولو لپاره د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ ریاست سیمه ییزو دفترونو او مرکزي دفتر ته واستوي. پکار ده چې د هر یوه ځایي داوطلب د چمتووالي وضعیت د IMSMA په ډېټابېس کې اپډېټ شي، برابره ده چې دغه داوطلب فعال وي یا نه وي.